# رغونه

## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د ذوالحجة الحرام ۱، ۱٤٤٧ هـــ.ق کال

غویی/ثـور ۲۸مه، ۱۴۰۵ هـــ.ش کــال

دویـم کال، پرله پســې اوومه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت

د چارو اداري لوی ریاست

د مطبوعاتو ریاست


## د مزارشریف ښــار کې د الکوزي ځلورلارې شاوخوا د پراخه شوي ســړک د قیرریزۍ چارې د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه پیل شوې



بلخ

## مزارشریف ښار کې د پنجشیر ګذر څخه تر امارت سړک پورې د ۷۰۰ متره اوږد او ۹ متره سور سړک د دوهمې طبقې قیر اچونې چارې د ۱۱ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې شوې.



بلخ

## غزني ښاروالۍ د روان ۱۴۰۵ کال لپاره د ۶۱۹ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۲ پراختیایي، رغنیزې او خدماتي پروژې تر کار لاندې نیولې دي



غزني

## په دې ګڼه کې لولئ:


هرات — جریان کار اســفالت بخش‌های داخلی پروژه زیرگذر در مرکز شهر هرات

لوگر — کار بازســازی چوک مقام ولایت لوگر به ارزش ۴۰۰هزار افغانی آغاز شد

ننگرهار — د جلال اباد ښــاروالۍ اداري ناسته ترسره شوه

سرپل — ریاســت شاروالی شــهر سرپل جلســه معلوماتی فعالیت های ربع چهارم ســال مالی ۱۴۰۴ را برگزار کرد.

هلمند — د لښکرګاه ښاروالۍ یو ګډ نظارتي ټیم د کندهار ـ هرات عمومي ښارګوټي کې د ډیجیټلي ترازوګانو څخه ځارنه ترسره کړه.

کندز — کار کانکریت‌ریزی کوچه پنجم شــهرک قهوه خانه شــهر کندز تکمیل شد.

کندز — کار موزاییک کاری پیاده روهای جاده آزادی شــهر کندز جریان دارد

پروان — برنامــه تشریح فرمــان شماره ۲۱ عالیقــدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی برگزار گردید

پروان — شــاروال غوربند از رونــد تطبیق پــروژه کانکریت‌ریزی مندوی بازار نظارت کرد

بلخ — د مزارشریف ښاروالۍ له لوري د اوومې او اتمې ناحیو په مربوطاتو کې د ۱۶ کیلومتره سړکونو او کوڅو د جغل اچونې چارې پیل شوې.

بلخ — سرک میدان هوایی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی به هزینه ۶۴ میلیون افغانی در مزارشریف قیرریزی می‌شود


فراه — فراه ښاروالۍ کې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۲۱ ګڼې فرمان د تطبیق په موخه غونډه ترسره شوه.

رغونه اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## قاری گل نبی انس شاروال کندز با هیئت مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور در دفتر کاری‌اش دیدار و گفتگو کرد


کندز ۱

قاری گل نبی انس شــاروال کندز با مولوی امین‌الله جیلانی، معاون ریاست مطبوعات ریاست عمومی اداره امور که به‌منظور آگاهی‌دهی شــهروندان در مورد فرمان‌هــای شماره ۱۷ و ۲۰ عالیقدر امیــرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی به ولایت کندز سفر کرده بود، دیدار و گفتگو نمود.

در این دیدار دو طرف گفتند که عنعنات ناپسند مشکلات زیادی را برای مردم به‌وجود آورده و رعایت فرمان شماره ۱۷ می‌تواند در بهبود زندگی شهروندان مؤثر واقع شود.

قاری گل نبی انس از تلاش‌های هیئت مطبوعاتی اداره امور در زمینه نصب پیام‌ها، نشر بروشورها و دیوارنگاری محتویات فرمان های یادشده قدردانی نمود و از شهروندان خواست تا برای ایجاد سهولت در زندگی و اصلاح جامعه، این فرامین را عملی سازند.

قابل یادآوری اســت که هیئت مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امــور چند روز پیش به‌منظور آگاهی‌دهــی در مورد فرمان‌های شماره ۱۷ و ۲۰ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی به ولایت کندز ســفر نمودند و درحال حاضر در نقاط مختلف شــهر و ولســوالی‌های این ولایت ماده های مختلــف این فرامین را از طریق لوایح، بروشورها و دیوارنگاری‌ها به نشر میرسانند.

**کندهار ښــاروالۍ کــې د ۱۴۰۵ مــالي کال د بودجې د تصویب په موخه د مشورتي شورا غونډه ترسره شوه. په غونــډه کې د راتلونکي مــالي کال د عوایدو، مصارفو او رغنیزو پروژو اړوند معلومات شریک شول او د شورا غړو یــاده بودجه تائید کــړه. همداراز د ناحیو ســتونزې او وړاندیزونه هم له مسؤولینو سره شریک شول.**


بغلان ۲

**جلسه آفرگشایی پروژه اعمار کانال سنگی اسحاق سلیمان به طول ۴۵۰ متر مربوط ناحیه سیزدهم شاروالی هرات تحت نظر هیئت مؤظف با حضورداشت قاری محمد ابراهیم ذاکر آمر تدارکات و قراردادهای شاروالی هرات، مسؤلان بخش‌های مربوطه و نمایندگان شرکت‌های داوطلب در تالار شاروالی هرات برگزار شد.**

هرات ۳

## جریان کار اسفالت بخش‌های داخلی پروژه زیرگذر در مرکز شهر هرات


هرات ۴

کار اسفالت بخش‌های داخلی کف پروژه زیرگذر توسط شاروالی هــرات آغاز گردید و با سرعت جریان دارد و کار بخش‌های باقی مانده ایــن پروژه نیز با سرعت ادامه داشــته و در آینده نزدیک تکمیل و به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.

شایان ذکر است که طول مجموعی هر دو فاز این پروژه ٦۴۰ متر و عرض آن ۸ متر می‌باشد که در بخش جنوبی سرک از فهیم مارکت الی ریاســت آبرســانی و از آن‌جا تا جــاده مخابرات مربوط نواحی دوم و ســوم شهر هرات توسط شاروالی هرات تطبیق می‌گردد.

انتظــار می‌رود با بهره‌برداری پروژه بزرگ و مهم انکشــافی، میزان ازدحام و حوادث ترافیکی به‌گونه چشم‌گیری کاهش یافته و سهولت های گسترده‌ای در رفت‌وآمد شهروندان شهر هرات فراهم گردد.

**مهترلام ښــاروالۍ کــې د گمیــن کلي مشرانو د خپلې ســیمې لپاره د گذر وکیــل د ټاکلو په موخه د ښــاري حکومتولۍ له امر سره ناسته وکړه. د حکومتولۍ امریت امــر ډاډ ورکړ چــې د طرزالعمل له مخې بــه د خلکو په رضایت یو وړ او خدمتگار شــخص د گذر وکیل په توگه وټاکل شي. گمین کلی ســرکال د مهترلام ښاروالۍ په چوکاټ کې شامل شوی دی.**


لغمان ۵


**جلسه اداری شاروالی فیروزکوه تحت رهبری الحاج مولوی امین‌الله شریفی، شاروال فیروزکوه با اشتراک کارمندان این اداره برگزار گردید و در مورد جمع‌آوری عواید از ملکیت‌های مربوط شاروالی، جمع‌آوری دست‌فروشان و انتقال آنان به ساحات و مکان‌های تعیین‌شده و حفظ و نگهداری منظم پارک‌های شاروالی و ساحات سبز بحث و تبادل نظر صورت گرفت.**

غور ٦

**د مزارشریف ښــار کې د الکوزي څلورلارې شــاوخوا د پراخه شــوي ســړک د قیرریزۍ چارې د ښــاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه پیل شوې**

**دغه سړک ۲۰۰ متره اوږدوالی او ۸ متره سور لري، چې د ټرافیکي ســتونزو د حل او ښــاري زیربناوو د پیاوړتیا لپاره عملي کېږي.**

**د ښــاروالۍ مســؤولینو ویلي، په پروژه کې به د سړک پراخول، قیرریزي، روښنایي، رنگمالي، فلزي کټارې، د ډبرو کار او سمسورتیا شامل دي.**


بلخ ۷

**د مهترلام ښــار د پنځمې ناحیې اړونــد د اول گذر لپاره شاهد الله فیضي د نوي گذر وکیل په توگه وټاکل شو. د معرفت په مراســمو کې د ښاروالۍ مسؤولینو د نوموړي دندو لایحــه تشریح کړه او هغه ژمنه وکړه، چې د نافذه اصولو لــه مخې به د ســیمې خلکو ته پــه اخلاص او صداقت خدمت کوي.**


لغمان ۸

**د مزارشریف ښــاروالۍ ســکتوري او تخنیکي رئیس اســتاد محمد جاوید مایار د ښار په بېلابېلو سیمو کې د روانو رغنیــزو او پراختیایي پــروژو څخه تخنیکي څارنه ترسره کړه**

**پــه دې لړ کې د ســړکونو، څلــورلارو او رغنیزو پروژو وضعیت وارزول شــو او د کیفیت، چټکتیــا او معیاري تطبیق په اړه لازمې سپارښتنې وشوې.**

**سکتوري او تخنیکي رئیس اســتاد محمد جاوید مایار وایي، هڅه کوي د بنســټیزو پروژو له لارې ښاریانو ته غوره ښاري خدمتونه او اسانتیاوې برابرې کړي.**


بلخ ۹

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## کار بازسازی چوک مقام ولایت لوګر به ارزش ۴۰۰هزار افغانی آغاز شد



لوګر ۱۰


کار بازسازی چوک مقام در مقابل مقام ولایت لوګر طی مراسمی با حضور الحاج قاری صلاح‌الدین ایوبی، والی لوګر، مولوی محمد شاکر ثاقب، شاروال پل‌علم، مولوی زین‌الله زیدان، رؤسای ادارات دولتی و شماری تجاران لوګر رسماً آغاز شد.

الحاج قاری صلاح‌الدین ایوبی، والی لوګر، در این مراسم با قدردانی از سهم‌گیری تجاران در پروژه‌های انکشافی گفت که آبادی لوګر مسؤولیت مشترک همه شهروندان است و مقام ولایت از سرمایه‌گذارانی که در بازسازی و زیباسازی شهر سهم می‌گیرند، حمایت می‌کند.

مولوی محمد شاکر ثاقب، شاروال پل‌علم، گفت که این پروژه تحت نظارت تیم‌های فنی شاروالی و با هماهنگی مقام ولایت تطبیق می‌شود تا کیفیت کار تضمین گردد؛ وی افزود که شاروالی تلاش دارد با همکاری مردم، سیمای شهر پل‌علم را معیاری و عصری بسازد.

قابل ذکر است که این پروژه، با هزینه ۴۰۰هزار افغانی به همت تجاران ولایت لوګر تمویل می‌گردد.

د هرات ښاروالۍ د زرغونتیا لوی مدیریت د ښار د ښکلا او زرغونتیا د ساتنې په موخه هره ورځ په پارکونو او بلوارونو کې د چمن تزیین، د ونو تنظیم، خړوبولو او د ګلانو او بوټو د ساتنې چارې ترسره کوي. ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنې چې د پاکو او زرغونو سیمو په ساتنه کې همکاري وکړي.



هرات ۱۱

د لښکرګاه ښاروالۍ د مارکیټونو تنظیم مدیریت له لوري د ښار په یو شمېر ناحیو کې د نرخونو د کنټرول او بازار د نظم ساتلو په موخه څارنه ترسره شوه. په دې لړ کې د لومړنیو توکو بیې، د نرخپاڼو تطبیق، د اجناسو کیفیت او د احتکار مخنیوی وڅېړل شول او هټۍوالو ته سپارښتنه وشوه چې د ټاکل شوو نرخونو له مخې وپلوري. مسؤولین وایي، دا ډول څارنې به د ښاریانو د اقتصادي ستونزو د کمولو لپاره دوام ولري.

هلمند ۱۲

## مزارشریف ښار کې د ښار ښکلا او ښاري زیربناوو د پیاوړتیا په موخه، د مزارشریف ښاروالۍ او کاپیتان شرکت په مالي همکارۍ د کاپیتان عصري څلورلارې د جوړېدو چارې رواني دي



بلخ ۱۳

یاده څلورلارې، چې پخوا د شمع څلورلارې په نوم یادېده، اوس په نوي او عصري طرحه جوړېږي. په پروژه کې د لوړ منار جوړول، د سرکونو پراخول او قیرریزي، معیاري څراغونه، رنګمالي، فلزي کټارې او سمسورتیا شامل دي.

د ښاروالۍ مسؤولین وایي، د پروژې له بشپړېدو وروسته به کاپیتان څلورلارې د مزارشریف ښار له عصري او ښکلو څلورلارو څخه وګرځي.

د ترینکوټ ښاروالۍ له لوري د لاس‌پلورونکو د تنظیم، د پلورلارو د خلاصون او ښاري بې‌نظمیو د مخنیوي په موخه د اصنافو له مشرانو، سوداګرو او کسبه‌کارانو سره ګډه ناسته ترسره شوه. مسؤولینو ټینګار وکړ چې د ښار د نظم، صفایي او منظمو صنفونو د رامنځته کولو لپاره به هڅې دوام ولري او هټۍوال به د ښاري اصولو په تطبیق کې همکاري کوي.




لغمان ۱۴

د لوګر ولایت د سوداګریزو اعلانونو د څېړنې کمېسیون چې پل‌علم ښاروالۍ یې هم غړیتوب لري غونډه ترسره کړه، په یاده غونډه کې د کمېسیون غړو پرېکړه وکړه څو د ډاکټرانو لپاره د سوداګریزو اعلانونو ځانګړي کرنلاره جوړه او هغوی ته توزیع شي.

د همدې پرېکړې پر بنسټ د کمېسیون غړو کرنلاره ترتیب او ډاکټرانو ته یې توزیع کړه. همدارنګه ډاکټرانو ته لارښوونه وشوه چې د کرنلارې مراعت لول اړین دي او که هر ډاکټر له ټاکل شوي کرنلارو سرغړونه وکړي نو د یاد کمېسیون له لوري به یې معاینه خونه او درملتون مهرلاک شي.

لوګر ۱۵

د خوست ښاروالۍ د اوومې ناحیې مسؤولینو د عوایدو، تنظیف او زرغونتیا په برخو کې ښېګڼه‌لیک فعالیتونه ترسره کړل. په دې لړ کې د صفایي محصول او صنفي جوازونو عواید راټول او بانک ته وسپارل شول، د هټیو احصائیه او د تعرفو تعقیب ترسره شو، او همدارنګه د کوڅو او لښتیو پاکاري او د کثافاتو انتقال هم ترسره شو.



خوست ۱۶

فراه ښاروالۍ کې د ښاروال، تخنیکي مسؤولینو او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) د استازو ترمنځ غونډه ترسره شوه. د UNDP مسؤولینو وویل، چې د فراه ښار په ښېګڼه‌لیو سیمو کې یې سروې کړې او پلان لري چې په ۲۰۲٦ کال کې د ښاروالۍ په سکټور کې یو شمېر پراختیایي پروژې پلي کړي. د فراه ښاروال هم د همکارۍ ډاډ ورکړ او د نورو عام‌المنفعه پروژو غوښتنه یې وکړه.



فراه ۱۷

د کندهار ښاروالۍ د ټولنیزو او فرهنګي چارو امریت له لوري د کندهار پوهنتون د عامه اداري او پالیسي پوهنځي محصلینو ته د علمي سفر په موخه معلوماتي سمینار وړاندې شو. په سمینار کې محصلینو ته د ښاروالۍ د اداري او تخنیکي فعالیتونو، د ښاروالۍ د تاریخچې، ښاري خدمتونو او ښاري فرهنګ په اړه معلومات ورکړل شول.

همدارنګه د ښاري اوسېدنې د کلتور، د ښاري اصولو د مراعات اهمیت او د ښاري نظم د پیاوړتیا په اړه هم عامه پوهاوي وړاندې شو. د سمینار په پای کې محصلینو خپلې پوښتنې مطرح کړې او وروسته یې د ښاروالۍ له بېلابېلو اداري او تخنیکي څانګو څخه لیدنه وکړه.

کندهار ۱۸

## د جلال‌اباد ښاروالۍ اداري ناسته ترسره شوه



ننګرهار ۱۹

د جلال‌اباد ښاروال قاري بلال په مشرۍ د ښاروالۍ میاشتنۍ اداري ناسته ترسره شوه، چې پکې د بېلابېلو څانګو مسؤلینو او د ناحیو امرینو ګډون کړی و. په ناسته کې د ۱۴۰۵ مالي کال د عوایـدو راټولولو، پـروژوي خدمتونو، ښـاري حکومتولۍ او د مراجعینو د چارو د اسانتیاوو په اړه بحث او لازم تصمیمونه ونیول شول.

د جلال‌اباد ښاروال قاري بلال وویل، د عوایدو منظمه راټولونه به د پروژوي خدمتونو د پراختیا لامل شي او ټولو مسؤلینو ته یې سپارښتنه وکړه چې د ورځنیو چارو په پرمختګ، د ښاري نظم په ټینګښت او د غصب د مخنیوي لپاره جدي هڅې وکړي.

همدارنګه د عوایدو او محاسـبې رئیـس اکرام‌الدین مفتون د کارکوونکو ترمنځ پر همغږۍ او ګډ کار ټینګار وکړ، او د بېلابېلو څانګو مسؤلینو داړ څرګند کړ چې د ښاروالۍ په چارو کې به لا زیات چټکتیا او اغېزمنتیا رامنځته کړي. د ناستې په پای کې د چارو د لا ښه والي لپاره ازاد بحث هم ترسره شو.

پرسونل تنظیف شـاروالی بامیان به منظور حفظ پاکی شـهر و جلوگیری از آلودگی محیط زیست، زباله های گذرهای اژدر و ملا غلام در ناحیه چهارم شـهر را جمع آوری و بـه محل تعیین‌شـده انتقال دادند. شـاروالی بامیان از شـهروندان خواسته است تا در حفظ نظافت شهر همکاری کرده و از ریختن زباله در اماکن غیرمجاز خودداری کنند.



بامیان ۲۰

ریاست شاروالی شهر سرپل جلسه معلوماتی فعالیت های ربع چهارم سال مالی ۱۴۰۴ را برگزار کرد. در این نشست، مسؤولین شاروالی گزارش فعالیت ها، پروژه های تطبیق شده و عواید جمع آوری شده را ارائه کردند. همچنین اعلام شد که ۱۶ پروژه شهری تطبیق یا در حال تطبیق است و بیش از ۷۱ میلیون افغانی عواید از منابع مختلف جمع آوری شده است. رهبری شاروالی بر بهبود خدمات شهری و همکاری شهروندان در پرداخت محصول صفایی تأکید کرد.

سرپل ۲۱

د لښکرګاه ښاروالۍ یو ګډ نظارتي ټیم د کندهار ـ هرات عمومي ښـارګوټي کې د ډیجیټلي ترازوګانو څخه څارنه ترسره کړه. د څارنې پر مهـال د وزن د کروالي ارزونه وشـوه او سرغړوونکو ته لازمي سپارښتنې او خبرداری ورکړل شو. د مارکیټونو د تنظیم مدیریت مدیر وایي، دا ډول نظارتونــه به د خلکو د حقونو د خوندیتوب او بازار د شفافیت لپاره دوام ولري.



هلمند ۲۲

کار کانکریت‌ریزی کوچه پنجم شهرک قهوه خانه شهر کندز تکمیل شـد. این پروژه از سوی شاروالی کندز به منظور بهبود وضعیت شهری و حل مشکلات باشندگان تطبیق می‌شود و شامل کانکریت‌ریزی ۱۱ کوچه همراه با ساخت آبروهای دوطرفه است. مسؤولین می‌گویند با تکمیل این پروژه، سـهولت های بهتر رفت وآمد برای شهروندان فراهم خواهد شد.



کندز ۲۳

## اطلاعیه شاروالی گذره!

به اطلاع عموم رسـانیده میشود که شاروالی گذره در نظـردارد قرارداد (تیل سـوخت مـورد ضرورت وسایط نقلیه شاروالی گذره) را با تانګ تیل عدالت واقع چهارســوی گذره به قیمت فی لیتر پطرول را ٦٥ افغانـی و فی لیتر دیزل را ٥٧ افغانی که قیمت مجموعی ٤٠٠٠٠ چهل هزار لیتر دیزل و ١٠٠٠٠ ده هزار لیتر پطرول به مبلغ ۲۹۳۰۰۰۰ دو میلیون و نهصد سی هزار افغانی اعطا نماید.

بناء اشـخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را سر از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت یوم به طور کتبی با دلایل آن به شاروالی گذره واقع مسیر شاهراه امام بخاری ( رح) ارائه نمایند.

ایـن اطلاعیه به معنـی عقد قرارداد نبـوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

هرات ولایت


د هرات ښـاروالۍ له لوري د پنځلسـمې ناحیې اړوند د کاریزک څخه تر شـیدایي بازاره د سړک د شمالي لین د دوهم پوړ قیر کولو چارې په منظم ډول رواني دي. دغه پروژه چې ۲۲۰۰ متره اوږدوالی او ۸ متره پلنوالی لري، د هرات ښـاروالۍ د پراختیایي بودجې څخه د ۲۷ میلیونه افغانیو په لګښت پلې کېږي.

د ښاروالۍ مسؤلین وایي، تخنیکي او انجنیري ټیمونه د پروژې تـول پړاوونه له نږدې څـاري، ترڅو چارې د تخنیکي معیارونـو او ټاکل شـوي مهالویش له مخې بشپړې شي. د دې پـروژې په بشـپړېدو سره به د پنځلسمې ناحیې په کوڅه د ښاریانو او موټرو د تګ راتګ ستونزې تر ډېره حل او ښـاري اسانتیاوې به لا پراخې شي.




هرات ۲۴

د جلال‌اباد ښاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته د ۱۴.٦ میلیونه افغانیو په ارزښـت د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د تفریحـي پارکونو د رنګولو او رغولو چارې رواني دي. په دې پروژه کې د پلو لارو، سایه بانونو، د ناستې څوکیو او د ماشومانو د لوبو خایونو جوړول شامل دي، چې ښاریان یې د ښار د ښکلا او تفریح لپاره مهم ګام بولي.



ننګرهار ۲۵

د مـهترلام ښـاروالۍ د تنظیف او زرغونتیـا مدیریت کارکوونکـو له لوري د لومـړۍ ناحیې اړونـد ویالي او پلچکونه پاک او رااېسـتل شوي کثافات ټاکلي ځای ته انتقال شول. د تنظیف او زرغونتیا مدیریت مدیر وایي، دغه چارې د پاک او سـالم چاپېریال د رامنځته کولو په موخه په منظم ډول دوام لري.



لغمان ۲٦

## د جلال‌اباد ښاروالۍ مرستیال، د عوایدو او محاسبې رئیس او مسؤلینو د ۱۴۰۵ مالي کال د بودجې په اړه د ښاروالۍ د مشورتي بورډ غړو سره معلوماتي غونډه ترسره کړه


ننگرهار ۲۷

په غونډه کې د ښاروالۍ مسؤلینو وویل، چې د ولسونو له عوایدو څخه د روڼتیا او حساب ورکونې په موخه باید د بودجې اړوند معلومات له خلکو سره شریک شي. همدارنګه د ۱۴۰۵ مالي کال لپاره د یو میلیارد او درېش میلیونه افغانیو عوایدي هدف او ۵۵۶ میلیونه افغانیو پراختیایي بودجې په اړه معلومات وړاندې شول.

د عوایدو او محاسبې ریاست تخنیکي مسؤلینو د ترتیب شوې بودجې په اړه پریزینټېشن هم وړاندې کړ. د مشورتي بورډ غړو د بودجې، پراختیایي او پراختیایي پروژو په اړه خپل نظرونه شریک کړل او د ښاروالۍ له رهبرۍ سره یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ترګند کړ.

د مهترلام ښاروالۍ د پنځمې ناحیې مدیریت کې د ګذر وکیلانو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه، چې پکې د ناحیې مدیر محمد منیر فاروق او د سیمې ګذر وکیلانو ګډون کړی و. په ناسته کې ګذر وکیلانو خپلې ستونزې او غوښتنې شریکې کړې او د ناحیې مدیر ډاډ ورکړ چې ستونزو ته به یې رسیدنه کېږي. همدارنګه نوموړي له ګذر وکیلانو وغوښتل چې د ښاروالۍ او امنیتي ارګانونو سره همکارۍ لا پیاوړې کړي.


لغمان ۲۸

به‌منظور حفظ نظافت و پاکی شهر، جلوگیری از آلودگی محیط زیست و تأمین محیط سالم برای شهروندان، زباله‌های جامد از ساحات زرگران و جگره‌خیل شهر بامیان توسط کارکنان تنظیف شاروالی بامیان جمع‌آوری و به مکان معین انتقال داده شد.


بامیان ۲۹

د جلال‌اباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا امر د نهه ګونو ناحیو د تنظیف او زرغونتیا مسؤلینو سره د ورځنیو تنظیفي خدمتونو د چټکتیا په موخه ناسته ترسره کړه.
په ناسته کې د ورځنیو چارو د ښه والي، د ناحیو ستونزو او غوښتنو په اړه بحث او لازم تصمیمونه ونیول شول.
د جلال‌اباد ښاروالۍ شاوخوا ۴۰۰ تنظیفاتي کارکوونکي لري، چې هره ورځ د ۷۰ عراده وسایطو په مرسته ۶۵۰ متر مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځایونو ته یې انتقالوي. ښاروالۍ له ښاریانو غوښتي چې د ښار په پاک ساتلو کې له تنظیفاتي کارکوونکو سره همکاري وکړي.


ننگرهار ۳۰

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت کارکوونکو د لومړۍ ناحیې اړوند ویالې او پلچکونه پاک او کثافات یې انتقال کړل. دغه چاره د مامور عزت الله نیازي په مشرۍ ترسره شوه او راټول شوي کثافات د چاپېریالي اصولو له مخې لیرې ځای ته ولېږدول شول.


لغمان ۳۱

د سپین‌بولدک ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لورې د مرکزي عیدګاه د صفایي او د نهم ګذر اړوند له ویالو څخه د کثافاتو د انتقال چارې ترسره شوې. ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنه کړې چې په لښتیو کې د کثافاتو له اچولو ډډه وکړي او هغه ګډونه چې د فاضله اوبو لپاره ویالې نه لري، د پاک چاپېریال ساتنې په موخه دې په خپلو کورونو کې مناسبې ځاګانې وکیندي.


کندهار ۳۲

## اطلاعیه شاروالی مزارشریف

به تعقیب مکتوب قبلی خویش می‌نگاریم که شاروالی مزارشریف به منظور تقویه بنیه مالی خویش در نظر دارد در سال ۱۴۰۵ پنج محل تشناب و وضو خانه واقع گلدان‌های اطراف روضه مبارک را از طریق داوطلبی به اجاره بدهد.

افراد و اشخاص، شرکت‌ها و موسساتی که خواهش داوطلبی آن را طور قرارداد داشته باشند مطابق شرطنامه داده شده درخواست‌های خویش را از تاریخ نشر اعلان به آمریت تدارکات و قراردادهای شاروالی مزارشریف سپرده و بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۷ روز تقویمی به دفتر مدیریت تسهیل قراردادها مراجعه نمایند.

تضمین پول نقد به مبلغ ۱۷۵۰۰۰ (یکصد و هفتاد و پنج هزار افغانی) بوده و طبق طرزالعمل تدارکات نقل چاپ شده را با پرداخت قیمت شرطنامه به مبلغ ۱۰۰۰ افغانی از آمریت تدارکات و قراردادها بدست بیاورید.

شرطنامه و مشخصات را ملاحظه شرط شمول عدم باقی‌داری بوده تضمین و ثلث وجه اجاره نقد اخذ می‌گردد.

بلخ ولایت

## د جلال‌اباد ښاروالۍ خبرتیا!

موضوع: د جلال‌اباد ښاروالۍ د دوهمې ناحیې اړوند د لغمان هډې اسفالټ سړک، ویالې او پلو لارو جوړولو پروژې د قرارداد داوطلبۍ په اړه:

د جلال‌اباد ښاروالۍ ټولو په شرایطو برابرو شرکتونو ته بلنه ورکوي چې په دې پروسه کې ګډون وکړي، علاقه لرونکي کولای شي د اړونده پروژې شرطپاڼې کاپي د اعلان له خپرېدو نېټې څخه تر ۲۱ ورځو پورې د عرض پاڼې په ارایه کولو سره د جلال‌اباد ښاروالۍ اړوند د تدارکاتو او قراردادونو امریت څخه ترلاسه کړي، او خپل افرونه د شرطپاڼې او د شرایطو او د تدارکاتي اصولو او لایحو مطابق په سر ترلي ډول د جلال‌اباد ښاروالۍ د تدارکاتو او قراردادونو امریت ته وسپاري.

د افر پرانیستې جلسې نېټه: ۱۴۰۵/۳/۱۱ هـ ش کال دوشنبه ورځ سهار(۱۰:۰۰ ) لس بجې.

ننگرهار ولایت

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د مزارشریف ښار ځلورمې ناحیې اړوند د چغدک ګذر د B پروژې ســړک قیرریزی چارې د ښاروالی د پراختیایي بودجې څخه د ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت په چټکۍ سره رواني دي. په دې پــروژه کې د کانالونو جوړول، د سړک بنســتیزې چارې، قیرریزي او نور معیاري رغنیز جزئیات شامل دي، چې ټاکل شوې د ۵ میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د پروژې په بشــپړېدو سره به د وســایطو د تګ راتګ ستونزې هواري او ښاریانو ته به اسانتیاوې برابرې شي.



بلخ ۳۳

د مزارشریف ښار نهمې ناحیې اړوند نوشاد مبنی سیمه کــې د پلــو لارو د موزاییک کارۍ او معیــاري ګلدانونو جوړولو پروژه د ناحیې مســؤولینو، د ګذر وکیلانو او د ســیمې اوســېدونکو په حضور کې پیل شــوه. د یادې پروژې موخه د ښاري نظم رامنځته کول، د ښار ښکلا او ښــاریانو ته د اســانتیاوو برابرول دي، چې د ســیمې اوســېدونکو په همغږۍ له ښاروالۍ سره عملي کېږي. مسؤولینو د ښار د ابادۍ او پرمختګ په برخه کې د خلکو او ښاروالۍ ترمنځ پر ګډې همکارۍ ټینګار وکړ.



بلخ ۳۴

د هرات ښــار شپږمې ناحیې اړوند د پل رنګینې څخه تر جکان پورې د سړک بولوار ښې ساحې د خړوبولو لپاره د ژور لمریز څاه کیندلو، د ۱۲۰۰ مترو پایپ غځولو او بولوار ترمیم پروژه د هرات ښاروالۍ د پراختیایي بودجې څخه د څه باندې ۲.۴ میلیونه افغانیو په لګښــت پرانیستل او عملي کار یې پیل شو. د پروژې مسؤولینو ډاډ ورکړ چې چارې به د تخنیکي معیارونو سره سم او پر ټاکلي وخت بشپړې شي، او د سیمې اوسېدونکو هم د دې پروژې له پیل څخه خوښي څرګنده کړه.



هرات ۳۵

مزارشریف ښار کې د پنجشیر ګذر څخه تر امارت سړک پورې د ۷۰۰ متره اوږد او ۹ متره ســور سړک د دوهمې طبقې قیر اچونې چارې د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه د ۱۱ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې شوې. یاده پروژه د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت او د انجینري ټیم تر مســتقیمې څارنې لاندې تطبیق شوه، چې موخه یې د ښاري زیربناوو پیاوړتیا او د ترانسپورټي ستونزو کمول دي. ښاروالۍ وایي، ډېرژر به د یاد سړک د کرښې اچونې چارې هم پیل شي.



بلخ ۳۶

جلســه هماهنگــی بــا وکلای گــذر نواحی ســه‌گانه محمودراقی به‌منظور تقویت هماهنگی در امور شــهری تحت رهبری مدیریت عمومی حکومتداری شــهری در تالار جلســات شــاروالی محمودراقی برگــزار گردید و پیرامون مســایل مختلــف بحث و تبــادل نظر صورت گرفت.



کاپیسا ۳۷

د کونړ اســعدآباد ښــاروال الحاج مولــوي رحمت الله شهامت د ښــاري خدمتونو مســؤولینو په ملتیا د ښار ځینې سیمې وکتلې، ترڅو د لاسي کراچیو پلورونکو لپاره مناسب ځایونه وټاکل شي. د ښاري خدمتونو مدیریت له لوري ځانګړي ځایونه په نښه شول، څو پلورونکي منظم او مناســب ځایونو تــه انتقال شي. ښــاروال تخنیکي پلاوي ته لارښــوونه وکړه چې داسي سیمې مشخصې کړي، چې د کاروباریانو کارونه زیانمن نه شي او ښاري نظم هم لا پیاوړی شي.



کونړ ۳۸

کار ترمیمات سرک کابل-پروان از بازار قلعه مرادبیک الی پل صوفیان به طول ۱٦،۸کیلو متر با حضور مولوی روح الله احمدی شاروال شکردره، معاون ولسوالی شکردره، انجنیران فواید عامه و قراردادی افتتاح و اغاز گردید.



کابل ولایت ۳۹

د کونړ اسعدآباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت کارکوونکي د ځانګړي پلان له مخې په ښاري ساحه کې د کثافاتو د مخنیوي او انتقال چارې پر مخ وړي. د ښار په بېلابېلــو ګذرونو، فرعــي لارو او کوڅو کې خدماتي پرســونل د کثافاتو په راټولولو او د دفن ځای ته په لېږد بوخت دي، ترڅو ښار پاک او منظم وساتل شي.



کونړ ۴۰

د خوســت ښــاروالۍ اړوند شــپږمې ناحیې له لوري د خوســت اداري کمپلېکس کې د RCC لښــتیو د جوړولو چارې پیل شــوې. د پروژې له مخې به ۷۵۰ متره لښتې او ۴۵۰ متره ســړک جوړ شي، چې موخه یې د مراجعینو لپاره د اسانتیاوو برابرول او خلکو ته د کار زمینه رامنځته کول دي.



خوست ۴۱

د فراه ښاروالۍ د زرغونتیا مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو ساحو کې د ګلانو او نیالګیو د پالنې او مینځلو چارې رواني دي. د دغو اقداماتو موخه د ښار زرغونتیا ساتل او ښاریانو ته پاک او ښکلی چاپېریال برابرول دي. د فراه ښاروالۍ مسؤولین وایي، دا ډول خدمتونه به دوام ولري.

فراه ۴۲

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

د مزارشریف ښار د نواباد سړک پر غاړه د لاسي پلورونکو او کراچیو د انتقال بهیر پیل شوی، چې موخه یې د ټرافیکي ګڼې ګوڼې کمول، د ښاري نظم ټینګښت او د تګ راتګ اسانتیاوو رامنځته کول دي. د ښاروالۍ مسؤولین وايي، له دې سره هممهاله د سړک شاوخوا د جغلاندازۍ چارې هم روانې دي، ترڅو د دوړو او خټو مخنیوی وشي او چاپېریال منظم شي. د دې پروسې په پایله کې د نواباد سړک د ټرافیکو پر مخ پرانیستل شوی او د لارې بندښت ستونزې تر ډېره حل شوې دي.



بلخ ۴۳

د مهترلام ښار د پنځمې ناحیې د څلورم ګذر اوسېدونکو د ښاري حکومتولۍ امر سره په لیدنه کې د سیمې ستونزې شریکې کړې او د نوي ګذر وکیل د ټاکلو غوښتنه یې وکړه. دوی وویل، د اوسني وکیل درې کلنه موده بشپړه شوې او اړتیا ده چې نوی او ور کس وټاکل شي، ترڅو د سیمې ستونزې په وخت له ښاروالۍ سره شریکې شي. ښاري حکومتولۍ امر راغلو مشرانو ته ډاډ ورکړ، چې د اصولو او طرزالعمل له مخې به د دوی غوښتنې ته رسېدنه وشي.



لغمان ۴۴


د فراه ښاروالۍ د پنځمې ناحیې عمومي مدیر الحاج مولوي محمد شاه شاکر د ګذر له وکیلانو او سپین‌ږیرو سره ګډه ناسته وکړه. په ناسته کې د بلاکونو د سروې او د صفایي د محصول د راټولولو په اړه خبرې وشوې او له خلکو وغوښتل شول، چې د سروې ټیمونو او ښاروالۍ سره همکاري وکړي. د مجلس ګډونوالو هم ژمنه وکړه چې په دواړو برخو کې به بشپړه همکاري کوي.



فراه ۴۵

د جلال‌اباد ښاروال قاري بلال، مرستیال ښاروال، د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس او نورو مسؤولینو د ۱۴۰۵ مالي کال د بودجې، پراختیایي او پراختیایي پروژو په اړه معلوماتي ناسته ترسره کړه. ښاروال قاري بلال وویل، د روان مالي کال لپاره پروژې د لومړیتوبونو له مخې ټاکل شوې دي او اړینه ده چې د عوایدو راټولولو برخه کې لا زیاتې هڅې وشي، ترڅو خدمتونه او پروژې پر وخت پلي شي.

د عوایدو او محاسبې رئیس وویل، د ۱۴۰۵ مالي کال لپاره یو میلیارد او دېرش میلیونه افغانۍ عوایدي هدف ټاکل شوی، چې له دې ۵۵۶ میلیونه افغانۍ پراختیایي بودجه ده. د ښاروالۍ رهبرۍ ټینګار کوي، چې د ولسونو له عوایدو څخه به په شفاف او منظم ډول د ښار د پراختیا او لومړیتوب لرونکو پروژو لپاره استفاده وشي.




بلخ ۴۶

د کونړ اسعداباد ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت د (ای ار ډبلیو او) موسسې له مسئوولینو سره وکتل. د ناستې پر مهال د موسسې استازو د خپلو فعالیتونو او پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او د ښاري ساحو کې د پروژو د ښه تطبیق لپاره یې د ښاروالۍ د همکارۍ غوښتنه وکړه. ښاروال د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او پر شفافیت او مستحقینو ته د حق پر رسولو یې ټینګار وکړ. د یادونې وړ ده چې یاده موسسه په اسعداباد ښار کې د حرفوي زده کړو په برخه کې فعالیت کوي.

کونړ ۴۷

کار کانکریت‌ریزی جویچه‌های ولسوالی نهرین به‌گونه منظم و معیاری به هدف جلوگیری از تجمع آب، تأمین پاکی محیط و استحکام بیشتر سرک‌ها ادامه دارد. شاروالی ولسوالی نهرین متعهد به ارائه خدمات بهتر شهری، حفظ نظم و پاکی شهر و تطبیق پروژه‌های انکشافی مطابق اصول و معیارهای شهری می‌باشد.



بغلان ۴۸

## کار موزاییک کاری پیاده روهای جاده آزادی شهر کندز جریان دارد



کندز ۴۹

کار پروژه اعمار آبروها و موزاییک کاری پیاده روهای دو طرفه سرک آزادی واقع در ناحیه سوم شهر کندز توسط شاروالی کندز به صورت اساسی با در نظرداشت معیارها مهندسی در حال تطبیق می‌باشد.

این پروژه شامل اعمار بیش از ۳۵۰۰ متر آبرو و ۱۵۷۰۰ متر موزاییک‌کاری پیاده‌روها می‌باشد که تا اکنون حدود ۷۵ درصد پیشرفت کاری داشته است.

اداره شاروالی کندز در کنار این پروژه، کار شماری از پروژه‌های انکشافی و خدماتی دیگر را نیز در بخش‌های مختلف شهر کندز روی دست دارد.

کار پروژه هموار کاری و ساخت و ساز پلچک های سرک جوار قوماندانی امنیه الی چوک غازی توسط شاروالی کندز به صورت معیاری با در نظرداشت معیارهای فنی و مهندسی در حال تطبیق است که شامل هموارکاری ۱۸۵۰ متر سرک به عرض ۲۰ متر و ساخت و ساز چندین پل و پلچک در مسیر این سرک بوده که تا اکنون ۶۰ درصد پیشرفت کاری دارد.



کندز ۵۰

به‌منظور حفظ نظافت و پاکی شهر، جلوگیری از آلودگی محیط زیست و تأمین محیط سالم برای شهروندان، زباله‌های جامد از ساحات جگره‌خیل واقع در ناحیه سوم شهر بامیان توسط کارکنان تنظیف شاروالی بامیان جمع‌آوری و به محل تعیین‌شده انتقال داده شد.



بامیان ۵۱

## برنامه تشریح فرمان شماره ۲۱ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی برگزار گردید



پروان ۵۲

برنامه‌ای به منظور آگاهی‌دهی و تشریح فرمان شماره ۲۱ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی برای دست‌فروشان شهر چاریکار در تالار جلسات شاروالی چاریکار برگزار گردید.

حافظ رازمحمد یاسر، شاروال شهر چاریکار گفت: «تمام کشورهای جهان به منظور نظم و نظام خود اصول و قوانین مشخصی دارند و فرمان شماره ۲۱ به منظور تنظیم دست فروشان و نظم‌بخشی به شهرهای کشور صادر شده است که تطبیق آن بالای شاروالی‌ها واجب می‌باشد.» وی همچنان همکاری دست‌فروشان شهر را در اجرای این فرمان امری ضروری دانست و از آنان خواست تا با شاروالی همکاری کنند.

مولوی سبحان‌الدین همت، فرمان شماره ۲۱ را به صورت شماره وار تشریح نمود تا شرکت‌کنندگان در برنامه آگاهی حاصل نمایند.

انجنیر امام‌الدین امین، رئیس اتاق پیشه‌وران و اصناف شهر چاریکار در سخنرانی خود عموم دست‌فروشان را به همکاری با اداره شاروالی در تطبیق این فرمان تشویق کرد و به نمایندگی از اصناف این شهر متعهد به همکاری با شاروالی شد.


این برنامه با دریافت پیشنهادات، سوالات و نظریات نمایندگان دست‌فروشان شهر چاریکار توسط مسؤولان شاروالی پایان یافت.

د کونړ اسعداباد ښار د څلورمې ناحیې د څلورم گذر اوسېدونکو د خپل وکیل سید اکبر شاه پاچا په ملتیا له ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت سره وکتل او د سیمې ستونزې یې ورسره شریکې کړې. ښاروال د هغوی ستونزو ته د رسېدنې او حل ډاډ ورکړ او ویې ویل، ښاروالی د ټولو گډه اداره ده او د ښاریانو غوښتنو ته به په ورین تندي ځواب وايي. د ناستې په پای کې راغلو مشرانو ښاروال ته د مبارکۍ په مناسبت اعزازي لونگۍ والې کړه.



کونړ ۵۳

## شاروال غوربند از روند تطبیق پروژه کانکریت‌ریزی مندوی بازار نظارت کرد



پروان ۵۴


ملا محمدا گل مسلم، شاروال غوربند از روند اجرای پروژه کانکریت‌ریزی داخل مندوی بازار این ولسوالی بازدید و نظارت کرد.

این پروژه توسط شاروالی ولسوالی غوربند به منظور ایجاد سهولت‌های بهتر برای دکانداران و باشندگان محل به گونه اساسی و مطابق معیارهای لازم در حال تطبیق است و قرار است طی چند هفته آینده تکمیل شود.

شاروال غوربند در جریان این بازدید بر کیفیت بهتر کار، تسریع روند تطبیق پروژه و رعایت معیارهای تخنیکی تأکید کرد و هدایت‌های لازم را به مسئوولان قراردادی پروژه صادر ارائه نمود.

به گفته مسئوولان با تکمیل این پروژه بخش عمده‌ای از مشکلات رفت‌وآمد، گرد و خاک و سایر مشکلات محیطی موجود در مندوی بازار برطرف شده و سهولت‌های لازم برای کسبه‌کاران و باشندگان محل فراهم خواهد شد.

د مزارشریف ښاروالۍ له لوري د اوومې او اتمې ناحیو په مربوطاتو کې د ۱۶ کیلومتره سړکونو او کوڅو د جغل اچونې چارې پیل شوې. د دغې پروژې موخه د ویجاړو سړکونو رغول، د ژمي پر مهال د تگ راتگ ستونزو کمول او د خټو له ستونزې د ښاریانو ژغورل دي. د ښاروالۍ مسئوولین وايي، هڅه کوي چې ورته بنسټیزو او عام المنفعه پروژو د ښار په بېلابېلو سیمو کې دوام وموومي، ترڅو ښاریانو ته لا ډېرې اسانتیاوې برابرې شي.



بلخ ۵۵

د کندهار ښاروالۍ له لوري د ښار په ۱۳مه ناحیه کې د یوه پلچک د اساسي رغولو چارې ۷۰ سلنه بشپړې شوې دي. یاد پلچک ۱۵ متره اوږدوالی او ۷ متره پلنوالی لري، چې د خلکو د تگ راتگ اسانتیا او د وسایطو د خوندي تېریدو په موخه رغول کېږي. د پروژې د تطبیق پر مهال ۱۰ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې او د سیمې اوسېدونکو یې هرکلی کړی دی.

کندهار ۵۶

## غزني ښاروالۍ د روان ۱۴۰۵ کال لپاره د ۶۱۹ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۲ پراختیايي، رغنیزې او خدماتي پروژې تر کار لاندې نیولې دي



غزنی ۵۷

په دغو پروژو کې د کابل ـ کندهار لویې لارې پراخول، د سړکونو د داغ نیونې چارې، د ویالو او پلچکونو رغول، د پارکونو او شنو سیمو جوړول او د ښاري نظم پیاوړتیا شامل دي.

د غزني ښاروال الحاج مولوي ابومحمد ثابت ویلي، ښاروالی هڅه کوي چې د داخلي بودجې له لارې ښاریانو ته معیاري خدمات وړاندې او ټولې پروژې په شفاف او باکیفیته ډول پلي کړي.

نوموړي زیاته کړه چې تېر ۱۴۰۴ کال کې هم ۲۸ بېلابېلې پروژې بشپړې شوې وې او دا مهال د ښار په مهمو سیمو کې د عصري څراغونو د نصب چارې هم روانې دي.

د کابل قره‌باغ ښاروالۍ له لوري د تورخیلو، الرساداتو، درگیو او اسدخیلو د قومي مشرانو سره ناسته ترسره شوه. په ناسته کې د گډونوالو نظریات او وړاندیزونه واورېدل شول او ښاروالۍ ډاډ ورکړ چې ټول تصمیمونه به د ولس د گټو او غوښتنو مطابق نیول کېږي. د غونډې په پای کې گډونوالو د ښاروالۍ د همکاریو او خدمتونو مننه وکړه.

کابل ولایت ۵۸

د غزني ښاروالۍ له لوري د داخلي بودجې پر مټ د فروخي خلورلارې څخه تر مات پله پورې د سړک د پراخوالي لومړنۍ چارې پیل شوې. یاده پروژه د ترافیکي ستونزو د حل، ښاري نظم د ښه والي او د ښاریانو د اسانتیاوو په موخه عملي کېږي. اوس مهال د ښاروالۍ ماشینرۍ د سړک پر غاړه د جوړښتونو او تاسیساتو د پاکولو چارې پر مخ وړي، څو د پراخوالي لپاره لازمه زمینه برابره شي. ښاروالی ویلي، د روان کال ټولې پلان شوې پروژې به پر وخت او معیاري ډول پلي شي.



غزنی ۵۹

## سرک میدان هوایی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی به هزینه ٦۴ میلیون افغانی در مزارشریف قیرریزی می‌شود



بلخ ۶۰

کار پروژه قیرریزی، تنویر و تزئین فاز نخست سرک میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی از چهارراهی قناعت بخش الی چهارراهی شـهرنو در مربوطات ناحیه یازدهم شهر مزارشریف به طول حـدود ۲ کیلومتر و عرض ۲۰ متر از بودجه انکشافی شـاروالی مزارشریف به هزینه مجموعی ٦۴ میلیون افغانی به‌گونه منظم ادامه دارد.

پروژه مذکور به اساس هدایت الحاج ملا محمد یوسف وفا، والی ولایت بلخ به اثر سعی و تلاش حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف تطبیق می‌گردد که کارهای عملی این پروژه به دلیل فرارسیدن فصل زمستان و سردی هوا برای مدتی متوقف گردیده بود، اما با گرم شدن هوا، روند اجرایی آن دو باره از سر گرفته شد و اکنون با سرعت مناسب و کیفیت معیاری جریان دارد.

وی افزود این پروژه از جمله پروژه‌های مهم زیربنایی و انکشافی شـهر به‌شمار مـی‌رود که بـا تکمیل آن، سـهولت‌های بهتر ترانسپورتی برای شـهروندان فراهم شده و سیمای شهری نیز بهبود خواهد یافت.

پروژهٔ متذکره شامل سـاخت آبروها، نصب پایه‌های تنویر، خط اندازی جاده، اعمار گلدان وسطی، سرسبزی و سایر جزئیات یک سرک معیاری می‌باشد که پس از تکمیل، نقش مهم در تنظیم ترافیک، زیبایی شـهر، کاهش ازدحام وسایط و رفاه باشندگان ایفا خواهد کرد.

فراه ښـاروالۍ کې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۲۱ ګنیـې فرمان د تطبیق په موخه غونډه ترسره شـوه. په غونډه کې د لاس‌پلورونکو لپاره د مناسبو ځایونو د ټاکلو او تنظیم په اړه بحث وشـو او ګډونوالو ته لازم پوهاوی ورکړل شـو. همدارنګ د ښـار وکیلانو، د ادارو استازو او ملکیـتـ لرونکو خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړل او د فرمان د تطبیق په برخـه کې یې د کمېټې له هڅو مننه وکړه.




فراه ۶۱

د فراه ښاروالۍ د څلورمې ناحیې عمومي مدیر ملا حفیظ الله عمران د یادې ناحیې د ګذر وکیلانو او سـپین‌ږیرو سره ګډه ناسـته ترسره کړه. په ناسـته کې د ښـار د صفایی، ښـاري نظم او متقابلې همکارۍ په اړه خبرې وشوې. نوموړي د ښار د پاک ساتلو او د خدمتونو د ښه والي لپاره د خلکو د همکارۍ غوښتنه وکړه، او ګډونوالو هم ژمنه وکړه چې د صفایـي او عامه خدمتونو په برخه کې به له ښاروالۍ سره بشپړه همکاري کوي.



فراه ۶۲

د ښـاري خدمتونـو د ښـه والي او د اداري همغږۍ د پیاوړتیا په موخه، د محمودراقي ښـاروالۍ نوبتي اداري غونډه د ښاروال حافظ مولوي شیراز عبدالله په مشرۍ ترسره شـوه. په غونډه کـې د اداري د بېلابېلو څانګو فعالیتونه وارزول شول او د ښاري خدمتونو د ښه وړاندي کولو، د مسـؤولیتونو پر وخت ترسره کولو او له ښاریانو سره د ښـه چلند پر اهمیت خبرې وشـوې. همدارنګ د اداري او خدماتي چارو اړوند پر بېلابېلو موضوعاتو بحث او د نظرونو تبادله هم وشوه.



کاپیسا ۶۳

ترینکوټ ښـاروالۍ مقام کې د ښـار د پراختیا، منظم ښاري پلان د تطبیق او راتلونکو پراختیایي پروژو په تړاو د خلکو له اسـتازو سره ناسته ترسره شوه. د ترینکوټ ښـاروال الحاج ملا محمـد اسماعیل دفاعـي وویل، ښـاروالۍ هڅه کوي چې د ښاریانو په همکارۍ ښار منظم، معیـاري او د راتلونکو اړتیاوو مطابق پراخ کړي. د خلکو اسـتازو هم د ښار د ابادۍ او پراختیا ملاتړ څرګند کړ او ویې ویل، د ښاري پلانونو د تطبیق پر مهال باید د اصولو له مخې د زیانمنو شـویو ملکیتونو مناسبه خساره ورکړل شي.




ارزګان ۶۴

## د جلال‌اباد ښاروالۍ خبرتیا!

موضـوع: د جلال‌اباد ښـار اوومې ناحیـې اړوند درونټې تونل څخه تر پارک پورې د سړک، پل او غر کټینګ پروژې د قرداد په اړه:

د جلال‌اباد ښاروالۍ ټولو په شرایطو برابرو شرکتونو ته بلنه ورکوي چې په دې پروسـه کې ګډون وکړي، علاقه لرونکي کولای شي د اړونده پروژې شرطپاڼې کاپي د اعلان له خپرېـدو نېټې څخه تر ۲۱ ورځو پـورې د عرض پاڼې په ارایـه کولو سره د جلال‌اباد ښاروالۍ اړوند د تدارکاتو او قراردادونو امریت څخه ترلاسـه کـړي، او خپـل افرونـه د شرطپاڼې او د شرایطو او د تدارکاتي اصولو او لایحو مطابق په سر تـړلي ډول د جلال‌ابـاد ښـاروالۍ د تدارکاتـو او قراردادونو امریت ته وسپاري.

د افر پرانیسـتې جلسې نېټه: ۱۴۰۵/۳/۱۲ هـ ش کال سه شنبه ورځ سهار( ۱۰:۰۰ ) لس بجې.

ننګرهار ولایت

## د مهترلام ښاروالۍ خبرتیا!

مهترلام ښـاروالۍ خپل د یو سـوداګریز مارکېټ دریمه برخه چـې د لومړۍ ناحیې اړوند د کلیو او پراختیا ریاسـت غرب خواته موقعیت لري او اوس مهال یکـې د ورزشي تمریناتو کلپ فعالیت کوي، په قرارداد ورکوي، هر هغه اشخاص چې په شرایطو برابـر وي او د یاد قـرارداد د نیولو لیوال وي، خپل غوښـتنلیکونه دې د اعلان لـه نشر څخه تر ۲۱ ورځـو پـورې د مـهترلام ښـاروالۍ د تدارکاتو او خدمتونو مدیریت ته وسپاري.

لغمان ولایت

د مهترلام ښاروالۍ اړوند د ارچهار دویم تجارتي مارکېټ مزایده د مهترلام ښاروال الحاج مولوي نظر محمد عتیق او د ټاکل شوې کمېټې په حضور کې ترسره شوه. یاده مزایده له لسو داوطلبانو ترمنځ ترسره شوه چې محمد الیاس د شرین زوی د میاشتې ٦۱ زره او ۱۱۰ افغانیو لوړ نرخ په ورکولو سره ګټونکی اعلان شو. ښاروالۍ ویلي، هر څوک چې پر یاده مزایده اعتراض لري، کولای شي د اوو ورځو په موده کې خپل اعتراض په لیکلي ډول د تدارکاتو او خدمتونو مدیریت ته وسپاري.

لغمان ۶۵